## د ځنګل اقتصادي ارزښت

د ځنګلونو اقتصادي اهمیت په دي کي نغښتي دي. چي ځنګل د هغه طبیعي زیرمو له جملي څخه دي چي د ګټي اخیستني په صورت کي په بشپړه توګه له منځه ځي بلکه بیا روغونه یا احیا مجدد پکي صورت نیسي. یعني دا په دي معني ده چي کله هم د ځنګل څخه د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره ګټه اخیستل کیږي . باید د ځنګل اینده په پام کي ونیول شي . په هم دي خاطر د ځنګل اهمیت د وخت په تېریدو، د صنعت او تکنالوژي د انکشاف په صورت کي پراختیا مومي، ځکه که د یوي خوا د صنعت او تکنالوزي د پرمختګ په صورت د ځنګل محصول ته اړتیا ډیریږي.

خو د بلي خوا څخه د ځنګلونو ژوند او پراختیا د ودې د ورکولو لپاره شرایط برابریږي. په لنډ ډول سره د ځنګل
اقتصادي اهمیت په لاندي دري برخو کي خلاصه کوو.

**د ځنګل اقتصادي اهمیت**




**الف : لرګي :** په ساختماني چارو کي د لمړي خامو موادو څخه چي په مختلفو موادو لکه کورونو پټولو د کړکیو او دروازو جوړ ل مسطح کول ، د تیلیفون د ستنو جوړول او د ګاډي په خطونو پلونو او همداراز دکشتیو په جوړولو کي په پراخه پیمانه ګټه اخیستل کیږي.

علاوه له دي څخه چي موبل ، سلولوز او کاغذ جوړولو په صنعت کي کار اخیستل کیږي . همدارنګه د حرارت د
انررژۍ د تولید لپاره هم تري د لمړی مادې په توګه کار اخیستل کیږي.

د خوراک او کرنې نړیوال پر وګرام ( ایف اي او ) په اساس چي ۱۳۵۷ خپور کړي، چي یو نفر کلني مصرف د سکرو او لرګیو ۲۵ منه یا ۱۸۰ ګرامو ته رسیږي.

**ب : د میوي تولید:** د ځنګلونو څخه ډیري میوي په لاس راځي چي د غذائي موادو په نوم تري کار اخیستل کیږي. لکه جلغو زی، پسته ، کنجد، عناب، تور املوک ، ګورګوري او داسې نور چي ځانګړی اقتصادي اهمیت لري.

چې د پورتني میوو د جملې څخه په ګران افغانستان کې جلغوزې او پسته د یادولو وړ دي، چې د هېواد دننه او هم په بهرنیو هیوادونو کې ډیر په زړه پوري بازار لري. چې له دي درکه یو زیاته اندازه ګټه هیواد ته رسیږي . چې د هیواد د اقتصاد په لوړولو کې ځانګړي رول لري.

**ج :د غوښي تولید :**همدارنګه د ځنګلنو څخه ځلور ډوله غوښه په لاس راځي.

**۱** – د ځمکنـي غوښـي یـا مرخیـړي : د مرخیړیـو یـا سمارق د ودې لپـاره ځنګـل پـه زړه پـوري چاپیریـال جو ړ وي، چي

تقریبا یو سلو پنځوس ډوله مرخیړي لري. په ځنګلونو کی پیدا کیږي چي د دې جملې څخه یي دیرش نوعي

ځانګړی خوارکې ارزښت لري . په کتابونو کي لیکل شوي دي چي د توس (Betala) د ونو د یو هکتار ځنګل څخه یوسلو پنځوس ۱۵۰ کیلوګرامه ځمکنی غوښه یا مرخیړي په لاس راځي.

پټه دي نه وي چي مرخیړي نه یواځي دا چي غذائي ارزښت لري بلکه ځانګړی طبي اهمیت او ارزښت هم لري. چي له دې جملي څخه یو نوع مرخیړي د کنړ او نورستان په ځنګلونو کښې پیدا کیږي . د سیمي د خلکو په واسطه ټولیږي. چې د وچولو څخه وروسته یو کیلوګرام ۵۰۰۰- ۷۰۰۰ افغانیو پوري پلورل کیږي.

د هغه وګړو لپاره چي ځنګل ونو ته نږدې ژوند کوي، ځانګړی مصروفیت او ځانګړي عایداتي سرچینه ګڼل کیږي.

څرنګه چي پورته ډول اشاره ورته وشوه د ۱۵۰ نوعو څخه دیرش نوعه غذائي ارزښت لري، چې د استفادي وړ دي . او پاتي نورو ډولونو کي داسې ډولونه شته، که چیري د غذائي موادو په ډول استعمال شي . د انسانانو د مړیني سبب ګرځي، ځکه چې زهري خواص لري.

**۲**- د وحشي حیواناتو او الوتونکو ښکار : د وحشي حیواناتو د ښکار څخه لکه د بېلابیلو نوعو لکه د مارکوپولو پسه ، هوسي د ښکار څخه زیاته اندازه غوښهٔ پلاس راځي. علاوه له دي څخه وحشي حیوانات د باکیفته پوستکو د لرلو له امله هم ښکار کیږي، چې پوستکي ورڅخه وباسي او بیا یې په لوړ قیمت په بازار کي پلوري.

**۳**- د کورنیو او اهلي حیواناتو د روزلو لپاره د واښو د برابرولو له امله هم ځنګلونه یو ځانګړی ارزښت او رول لري.

چي په ټولیز ډول هغه خلک چي ځنګلي سیمو ته نږدې ژوند کوي، د څارویو روزل یې پیشه او کسب وي علت ئي څړ ځاي اود واښو ډیرښت وي، چي له دي لاري څخه نه یوازي دا چي غوښه په لاس راځي بلکه نور

حیواني محصولات لکه لبنايات هم په لاس راځي. چي دا هم یو ستره عایداتي سرچینه بلل کیږي.

په لنډ ډول باید ووایو چې مالداري لپاره ځنګل یو بهرني چاپیریال ګڼل کیږي.
**٤ -ماهي نیول :** نه یوازې دا چې ځنګلونه د څارویو لپاره مناسب چاپیریال جوړوي بلکه د ماهیانو د روزلو لپاره هم ځانګړي ارزښت لري، ځکه هغه رودونه، ډندونه او سیندونه چې په ځنګلونو او په ځنګلي سیمو کې موقیعت لري.
له یو پلوه د رڼو او پاکو اوبو په لرولو او د بله پلوه د خوراکي توکو د پراخو زیرمو د لرولو له امله د ماهیانو د روزلو او د نسل د تولید لپاره ډیر ښه او مناسب ځای ګڼل کیږي. چې اوس هم په داسې سیمو کې په طبیعي ډول سره د ماهیانو بېلابېل ډولونه په پراخه پیمانه پیدا کیږي، چې دماهیانو د ښکار لپاره ښه محل جوړوي او له دې لارې څخه زیاته پیمانه غوښه لاس ته راځي .چې د اقتصاد په پیاوړتیا کې ستر رول لوبوي.

**په درنښت**

**محمداجان نیکزاد د لوګر د کرنې او وترنرۍ انستیټوټ استاد**